داکتر ناصر اوریا- مختصات افغانستان/محقین و مؤلفین ۲۰۲۳/۰۸/۱۷

# معرفی استاد « محمد امین خوگیانی» در قاموس کبیر افغانستان

## د افغانستان لوی قاموس کې « محمد امین خوگیانی» پېژندنه




محمد امین خوگیانی به تاریخ ۴ جنوری ۱۹۰۰م (۱۴ جدی ۱۲۷۸ش مطابق ۲ رمضان ۱۳۱۷ق) در ولسوالی خوگیانی ولایت ننگرهار در یک خانوادۀ فاضل، دانشمند و متدین دیده به جهان گشود.

پدرش محمد اسرائیل خان نام داشت که یک شخصیت عالم، معارف پرور و مبارزی بود که خود و خانواده اش بخاطر خدمات اجتماعی، تعمیم علم و مبارزات ضداستعماری اش در بین مردم از شهرت نیک، نفوذ اجتماعی و محبوبیت خاص برخوردار بود.

وی تعلیمات ابتدایی را نزد پدر آغاز و در سن پنج سالگی شامل مکتب محل شد که به اثر توجه و پشتیبانی پدرش محمد اسرائیل خان اعمار گردیده بود .

بعد از چهار سال شامل مکتب طورو د ماهیار شده و تعلیماتش را در آن مکتب تکمیل و سند فراغت را بدست آورد. گفته میشود که مکتب طورو که در سال ۱۸۶۳م بنیاد نهاده شده بود، بخاطر سویۀ عالی تعلیمی آن بنام "بخارای کوچک" شهرت داشت و شاگردان از بخارا و هند نیز غرض کسب علم به این مکتب می آمدند.

محمد امین خوگیانی علاقۀ مفرط به آموزش زبان های ترکی و انگلیسی داشت، چون نیک میدانست که بدون آموختن زبان انگلیسی مقابله در برابر استعمار انگلیس بس مشکل خواهد بود. به اساس همین مفکوره زمانی که در سال ۱۹۱۴م شامل دارالعلوم اسلامیۀ نعمانیۀ لاهور شد، برای مدت یکسال در آنجا ماند و علاوه بر علوم مدنی و علوم شرعی با زبان های انگلیسی و ترکی نیز آشنایی حاصل کرد. وی بعد از سپری نمودن امتحان کانکورِ علوم اسلامی و لسانِ عربیِ کالج اسلامیۀ پیشاور، تصدیق مؤفقیت را از آنجا بدست آورد.

همچنان شهادتنامۀ افتخاری قضا و علوم اسلامی از طرف مولوی عبدالواسع خان سرمعلم مکتب قضات کابل و قاضی القضات دورۀ امانی به وی تفویض گردید.

زمانی که تعلیمات صرف، نحو، فقه، منطق را از علمای جید زمانش فراگرفت، به هدایت کاکایش مولوی عبدالجمیل کتاب "تحفة المتین" را به زبان دری ترجمه نمود .

وی علی الرغم اینکه شاگردانی را تربیه نموده بود که بعضی آن ها سیاستمداران متعهد به ملت و منافع ملی شدند ولی خود همیشه بدور از سیاست بوده و هیچگاه علاقمند پا گذاشتن در آن نبود.

وی به لسان های پشتو، دری و عربی حاکمیت کامل و به زبان های ترکی و انگلیسی نیز آشنایی داشت. در علوم متداوله چون صرف، نحو، منطق، مناظره، اصول، تفسیر، حدیث، عروض، فلسفه، و ریاضیات کاملاً وارد بود.

محمد امین خوگیانی بعد از شهادت پدرش محمد اسرائیل خان، مبارزه و جهاد قلمی و تبلیغی را که پدرش علیه استعمار و برای بیرون راندن قوای متجاوز انگلیس از افغانستان آغاز کرده بود، دوام داد.

وی یک شخصیت متدین، مردم دوست و دارای صفات عالی اجتماعی بود که قلب رؤف و حوصله فراخ داشت.

زمانی که شاه امان الله در سال ۱۹۱۹م استقلال افغانستان را اعلام کرد، محمد امین خوگیانی ۱۹ سال عمر داشت. وی در پهلوی اینکه صاحب تعلیمات عالی معاصر بود، خود و خانواده مخصوصاً پدرش محمد اسرائیل خان، از پیشگامان تعمیم معارف و از نفوذ اجتماعی و محبوبیت مردمی خانوادگی برخوردار بود .

چون محمد امین خوگیانی با مفکوره ها و پروگرام های تعلیمی و کلتوری شاه امان الله همنظر بود و جایگاه مردمی داشت، به همین اساس در سال ۱۹۲۰ میلادی از طرف دولت امانی مؤظف به تأسیس اولین مکتب عصری در سمت مشرقی شد. وی توانست که از عهدهٔ این کار مؤفق بدر شده و اولین مکتب معاصر بعد از کابل (مکتب حبیبیه ۱۹۰۴ م) را در مشرقی ایجاد نماید .
این مکتب بنام "شجاعت" که دورهٔ تعلیمی ۵ ساله داشت (بعدها به لیسه ارتقا نمود)، در سال ۱۹۲۰م توسط محمد امین خوگیانی افتتاح شد که وی تا سال ۱۹۲۴م به صفت سرمعلم آن باقی ماند. در عین سال مکتب دیگری بنام "همت" بدست سردار محمدنادر خان رئیس تنظیمیهٔ مشرقی در شهر جلال آباد برای تعلیم فرزندان وطن افتتاح شد .
در سال ۱۹۲۰ میلادی ۶ مکتب و در سال ۱۹۲۱ دروازه ۱۴ مکتب دیگر با تلاش و زحمات وی بروی متعلمین باز گردید.
چون تعداد مکاتب در مشرقی زیاد شده میرفت و به معلمین بیشتر ضرورت بود، برای رفع این پرابلم، به ابتکار وی در مکتب "شجاعت" کورس تربیوی قصیرالمدت معلمی ساخته شد که فارغین آن به مکاتب دیگر منحیث استاد فرستاده می شدند.
محمد امین خوگیانی که برداشت عمیق و دقیق از دین داشت، تا آخر عمر به این نظر بود که "هیچ عالم دینی بدون علوم مدنی عالم نیست". آرزوی همیشگی اش این بود که "ای کاش بتواند به همه ملا ها و خطیبان مساجد، منطق، علوم فلسفی و مدنی تدریس کند و تدریس شود زیرا آنها اولین معلمین جامعه و مردم عوام اند و موعظهٔ نادرست آنها میتواند باعث گمراهی ابدی عوام الناس مظلوم و بیچاره و عامل تباهی ملت شود."
چون دولت امانی از فهم، درایت و شهرت نیک وی و فامیلش آگاهی داشت، خواست تا از نفوذ و استعدادهایش در پهلوی معارف در بخش های دیگر نیز استفاده نماید .
محمد امین خوگیانی چه در زمان نهضت امانی و چه بعد از آن در بخش معارف، ژورنالیزم، مطبوعات، قضا و دیگر امور محوله مصدر خدمات سترگ ملی و اجتماعی گردید.
شماری از مسئولیت های وظیفوی:
-از سال ۱۹۲۴ - ۱۹۲۵م بحیث معاون معارف مشرقی (که شامل: ننگرهار، لغمان، کنړ، نورستان بود (و سپس مدیر معارف مشرقی مقرر شد که در همان دوره (مکتب چهارباغ صفا) و مکتبی را در کامه افتتاح نمود.
-از سال ۱۹۲۵ الی ۱۹۲۶م معاون مطبوعات و ترجمانِ جریدهٔ اتحاد مشرقی.
-از سال ۱۹۲۶م الی (سقوط دولت امانی و غائلهٔ حبیب الله کلکانی) مدیر مطبعه و مطبوعات ولایت ننگرهار و مدیر و سرمحرر جریده اتحاد مشرقی.
اولین بار جریدهٔ اتحاد مشرقی در نخستین سالگرد سلطنت شاه امان الله در مارچ ۱۹۲۰م، بعد از جرگهٔ اتحاد مشرقی (وجه تسمیه) چاپ و پخش گردید.
جریده اتحاد مشرقی که قبلاً ماه یکبار به زبان دری نشر میشد در زمان مدیریت و سرمحرری وی به نشریهٔ هفته وار تبدیل شد و همچنان برای نخستین بار یک صفحه خبری به زبان پشتو نیز به آن اضافه گردید .
-در زمان شورش و اغتشاش ضد نهضت امانی، به سفارش و هدایت شاه امان الله به حیث عضو جرگه ای به ارتباط نآرامی های شینوار و بعداً در جرگهٔ هده اشتراک نمود.
-مدیر مسئول اخبار "اصلاح"، جنوری ۱۹۳۰ الی مارچ ۱۹۳۲م
-مدیر مسئول اخبار "انیس"، مارچ ۱۹۳۲ الی جنوری ۱۹۴۱م
در دوران مدیریت وی بود که اخبار "انیس" برای نخستین بار مصور شد. نشرات اخبار "انیس" در زمان مسئولیت وی از نشریهٔ ماهِ دوبار به نشریهٔ هفتگی ارتقا نموده و برای اولین بار چاپ مضامین به زبان پشتو نیز در آن گنجانیده شد، که ۵۰ فیصد مطالب را احتوا میکرد.
در زمان مدیریت وی بود که چاپ (سالنامه) و همچنان کلکسیون اخبار هر سال آغاز گردید.
اخبار "انیس" در سال ۱۹۲۷ میلادی آغاز به نشرات کرد که مؤسس، اولین مدیر مسئول و سرمحرر آن مرحوم محی الدین انیس بود. زمانی که محی الدین انیس راهی زندان شد، سرور جویا مسئولیت سرمحرری جریدهٔ "انیس" را به عهده گرفت. بعد از جویا سرمحرر "انیس" شهید محمد هاشم میوندوال بود که بعد از وی یار دیگر محی الدین انیس، محمد امین خوگیانی سرمحرر اخبار "انیس" شد.
-پس از مدیریت "انیس" به حیث مشاور ریاست مستقل مطبوعات (که بعداً به وزارت اطلاعات و کلتور اتقا کرد) - ۱۹۴۱ الی ۱۹۴۶م. وی در یادداشت هایش مینویسد که خبر این تقرر را دوست خوبم جناب صلاح الدین سلجوقی برایم آورد.
-معین وزارت عدلیه - جون ۱۹۴۶ الی مارچ ۱۹۴۸م
زمانی که محمد امین خوگیانی در مقام معین وزارت عدلیهٔ افغانستان توظیف گردید به تمام مامورین مربوط دستور داد که "دروازه دفترم را بروی تمام عارضین باز نگهدارید و این توقع را از شما هم دارم که تمام وقت رسمی خود را به خدمت صادقانه به هموطنان اختصاص دهید."
-قاضی القضات افغانستان (ریاست تمیز) - اپریل ۱۹۴۸ - سپتمبر ۱۹۵۰م


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

-عضو مجلس عالی اعیان - سپتمبر ۱۹۵۰ - ۱۹۶۵م
-سناتور مشرانو جرگه - سپتمبر ۱۹۶۵ - سپتمبر ۱۹۷۰م
شماری از تألیفات محمد امین خوگیانی؛
-حیات سیدجمال الدین افغان، ۱۳۱۸ هجری شمسی - کابل
-تمتة البیان فی التاریخ الافغان، ترجمه دری - ۱۳۱۸ هجری شمسی
این کتاب توسط سیدجمال الدین به زبان عربی در مصر تالیف گردیده بود.
-حیات سید علی ترمذی پیر بابایی بنیری - ۱۳۱۸ هجری شمسی
-د قضا تاریخ (پشتو)
-د پشتونولی ځلی
-تاریخ قضا (دری)
-خوشحال خان ختک (چاپ ناشده)
محمد امین خوگیانی بیشتر از ۶۰۰ مقالۀ ارزشمند، مفید و مؤثر نوشته است:
چند مقاله مشهور سیاسی آنزمان:
۱ - همکاری برای فعالیت های برادران مسلمان ترکستان چینی سنکیانک - از ۱۳۰۸ تا ۱۳۳۱۰ هجری شمسی در روزنامه اصلاح
۲ - تأسیس مکاتب خانگی در سرحدات آزاد، در مهمند و باجوړ - از ۱۳۱۱ تا ۱۳۱۲ هجری شمسی
۳ - راپور مکمل جرگۀ اعلیحضرت امان الله خان در سراج العمارت شهر جلال آباد و بحث قانون اساسی
به قول انجنیر امین خوگیانی، نواسۀ مرحوم خوگیانی:
"آرشیف خانوادگی ما و کتابخانه شخصی پدرکلانم که یک مجموعۀ بیشتر از ده هزار جلد کتاب و رساله به زبان های عربی، پشتو، دری و اردو داشت، در جنگ های تنظیمی دهۀ ۱۹۹۰م زمانی که خانۀ شان واقع شرشاه مینه (کارته چهار) به سرقت رفت، حریق شد... شامل بیش از ده کتاب چاپ ناشده، که اکثر آنها کتابهای تاریخ بود. علت چاپ نشدن کتابها این بود که خوگیانی صاحب نمی خواست اصلاحات سلیقوی را در آن بیآورد."
محمد امین خوگیانی در طول بیشتر از پنج دهه وظایف کاری اش در بخش معارف، ژورنالیزم و قضا کار کرد. مدت ۴ سال در معارف افغانستان مخصوصاً در بخش تأسیس مکاتب، مدت ۲۱ سال در بخش رشد، ارتقا و پیشرفت ژورنالیزم و ۲۵ سال در ساحۀ خدمات عدلی و قضایی، برای مردم افغانستان خدمات عظیم و فراموش ناشدنی انجام داده است.
وی بعد از انجام خدمات بنیادی و بی سابقه برای مردم افغانستان در ساحات فوق الذکر در سال ۱۳۴۹ش (اکتوبر ۱۹۷۰م) به تقاعد سوق داده شد.
محمد امین خوگیانی بعد از صرف بیشتر از پنج دهۀ عمر گرانبهایش در خدمت مردم، به تاریخ ۵ جدی ۱۳۶۴ هجری شمسی (۲۶ دسمبر ۱۹۸۵) در شفاخانۀ علی آباد کابل چشم از جهان فانی بست و در شهدای صالحین به خاک سپرده شد.
روانش شاد و فردوس برین مأوایش باد

محمد امین خوګیاني د محمد اسرائیل خان زوی د ۱۲۷۸ لمریز کال د مرغومی په ۱۴ نیټه د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالی کی په یوه علمی، دینداره، او روښانه کورنی کی نړی ته سترګی پرانستی .
لومړنی ښووني یی خپل پلار ځخه پیل، وروسته ځایی ښوونځی کی شامل شو.له هغه وروسته د "طورو د ماهیار" ښوونځی کی چی د لوړی تعلیمی کچی له امله په "وړه بخارا" مشهور وه، شامل او هلته یی خپل تعلیمات سر ته ورسول.
کله چي یي د صرف، نحو، فقه او منطق درس د خپل وخت له غوره پوهانو څخه زده کړ، نو د خپل تره مولوي عبدالجمیل په لارښوونه یي د "تحفة المتین" کتاب په دري ژبه وژباړه.
په ۱۹۱۴ کال کي د لاهور په دارالعلوم اسلامیه کي شامل، او د مدني او اسلامي علومو ترڅنګ په انګلیسي او ترکي ژبو هم بلد شو.
د پېښور اسلامیه کالج کي، د اسلامي علومو او عربي ژبي د آزموینې له پاسولو وروسته یي د بریالیتوب سند ترلاسه کړ.
نوموړي ته د اماني دوری قاضی القضات او د کابل د قضاتو د لیسي د رئیس مولوي عبدالواسع خان له خوا د قضا او اسلامي علومو افتخاري سند هم ورکړل شو.
که څه هم هغه زیات شمیر شاګردان روزلي وه، چي ځیني یي ملت او ملي ګټو ته ژمن ستر سیاستوال شول، خو پخپله یی خان تل له سیاست څخه لري ساته.
محمد امین خوګیاني په پښتو، دري او عربي ژبو بشپړ تسلط درلود او ترکي او انګلیسي ژبو سره هم بلد وه. هغه په عامو علومو لکه ګرامر، نحو، منطق، مناظره، اصول، تفسیر، حدیث، نثر، فلسفه او ریاضیاتو کي پوره لاس درلود.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

محمد امین خوګیاني د خپل پلار محمد اسرائیل تر شهادت وروسته، د خپل پلار په څیر د استعمار پر ضد، قلمي او تبلیغي مبارزې ته دوام ورکړ.
کله چې شاه امان الله په ۱۹۱۹م کې د افغانستان خپلواکي اعلان کړه، محمد امین خوګیانی ۱۹ کلن وه. هغه د شاه امان الله روزنیزو او کلتوری مفکورو او پروګرامو سره موافق وه او د هغه کورنی په ځانګړې توګه پلار یی، یو معارف روزونکی او د ښه نوم، تولنیز نفوذ او نیک کورنی شهرت خاوند وه. په همدې اساس په ۱۹۲۰م کال کې د اماني حکومت په سپارښتنه په مشرقی کې د لومړنی عصري ښوونځي په جوړولو وګومارل شو. هغه وکولای شو د "شجاعت" په نامه په مشرقی کی د لومړنی عصري ښوونځی بنسټ کیږدی.
په ۱۹۲۰م کال کې د ده په هڅو، ۶ ښوونځي او په ۱۹۲۱ کال کې د ۱۴ نورو ښوونځیو دروازې د زده کوونکو پر مخ پرانیستل شوی.
څرنګه چې په مشرقي کې د ښوونځیو شمېر مخ په زیاتېدو شو او زیاتو ښوونکو ته اړتیا وه، د دې ستونزې د حل لپاره د محمد امین خوګیاني په نوښت په "شجاعت" لیسه کې د ښوونکو د روزنې لنډ مهاله کورس پیل شو، چې فارغان یې د استادانو په توګه نورو ښوونځیو ته لیږل کیدل.
محمد امین خوګیانی چې د دین په اړه ژوره مطالعه او دقیقه پوهه درلوده، د خپل ژوند تر پایه په دې نظر و چې "د مدني علومو له زده کړې پرته هیڅ دیني عالم، عالم نه دی". د هغه هیله دا وه چې "د جوماتونو ټولو امامانو او خطیبانو ته د منطق، فلسفې او مدني علومو درس ورکړل شي، څکه دوی د ټولنې او عامو خلکو لومړني ښوونکي دي او د دوی ناسم تبلیغ د ابدي ګمراهی لامل او د ملت دی تباهی لامل کېدای شي."
محمد امین خوګیانی د اماني غورځنګ په دوران، او له هغه وروسته د پوهنې، ژورنالیزم، مطبوعاتو او قضا برخو کې ستر ملي او ټولنیز خدمتونه تر سره کړل.
د محمد امین خوګیانی دندې او مسؤلیتونه:
-له ۱۹۲۴ څخه تر ۱۹۲۵م کال - د مشرقی د ښوونی مرستیال، او وروسته د مشرقی د معارف مدیر په توګه. په همدې موده کې یې د "چهارباغ صفا ښوونځی" او په کامه کې یې یو ښوونځی پرانیست.
-له ۱۹۲۵ تر ۱۹۲۶م، د مطبوعاتو مرستیال او د "اتحاد مشرقی" ورځپاڼې ژباړونکی.
-له ۱۹۲۶م څخه د اماني حکومت تر سقوطه، د ننګرهار ولایت د مطبعی او مطبوعاتو مسئول او د اتحاد مشرقي ورځپاڼي مسوول مدیر.
د اتحاد مشرقي مجله چې په میاشت کې یو ځل په دري ژبه خپریدله، د ده د مدیریت موده کې له میاشتنی څخه اونیزه خپرونه شوه او د لومړي ځل لپاره په پښتو ژبه د اخبار یوه پاڼه هم ور اضافه شوه.
د اتحاد مشرقي لومړنی خپرونه د ۱۹۲۰م کال د مارچ میاشت کې د شاه امان الله د پاچاهۍ په لومړۍ کلیزی، او د اتحاد مشرقي له جرګې وروسته چاپ او خپره شوه.
-د اماني غورځنګ پر ضد د پاڅون پر مهال د شاه امان الله په سپارښتنه د شینوارو د ناکراریو په تړاو د جرګې د غړي په توګه او وروسته یې د هدی په جرګه کې هم برخه اخیستې وه.
-د "اصلاح" اخبار مسؤل مدیر، جنوري ۱۹۳۰ تر مارچ ۱۹۳۲م
-د "انیس" اخبار مسؤل مدیر، مارچ ۱۹۳۲ تر جنوري ۱۹۴۱م
د هغه د مسئولیت په موده کې وه چې د لومړي ځل لپاره "انیس" خپرونه مصوره شوه او "انیس" اخبار له میاشتنی دوځلی څخه اونیزې خپرونې ته ارتقا وکړه. همدا راز د لومړي ځل لپاره وه چې "انیس" اخبار کی په پښتو ژبه د موضوعاتو خپرونی هم شاملی شوی، البته د ۵۰ سلنی په ونډه.
د محمد امین خوګیاني د مسئولیت په وخت کې هر کال د (کلنی یا سالنامه) او د اخبار کلکسیون خپرول پیل شول.
د «انیس» جریدی (د افغانستان لومړنی غیردولتی اخبار) خپریدل په ۱۹۲۷م کال کې، د جریدی د بنسټګر او لومړنی مسئول مدیر اروابناد محي الدین انیس له خوا پیل شوه. کله چې محی الدین انیس جیل ته ولیږدول شو، دا مسئولیت سرور جویا په غاړه واخیسته. له جویا وروسته شهید محمد هاشم میوندوال د "انیس" جریدی مسئول مدیر وه، چې له هغه وروسته د محي الدین "انیس" بل یار، محمد امین خوګیانی د "انیس" اخبار مسئول مدیر شو.
-له ۱۹۴۱ څخه تر ۱۹۴۶م پورې د "انیس" تر اداري وروسته د مطبوعاتو د مستقل ریاست (وروسته د اطلاعاتو او کلتور وزارت) سلاکار په توګه. هغه په خپلو یادښتونو کې لیکي چې د دې ګمارنې خبر زما د خوارږه ملګري ښاغلي صلاح الدین سلجوقي له خوا ما ته راورسید.
-د عدلیې وزارت مرستیال - جون ۱۹۴۶ تر مارچ ۱۹۴۸م
کله چې خوګیانی صاحب د عدلیې وزارت مرستیال شو، ټولو اړوندو مامورینو ته یې امر وکړ، چې "زما د دفتر دروازه د ټولو عارضینو پر مخ پرانستې وساتي او له تاسو څخه هم هیله لرم، چې خپل ټول رسمي وخت د هېوادوالو صادقانه چوپړ ته وقف کړئ."


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

-قاضي القضات (تميز رئيس) - اپريل ۱۹۴۸ - سپتمبر ۱۹۵۰م
-د اعیانو د عالي مجلس غړی - سپتمبر ۱۹۵۰ - ۱۹۶۵م
—د مشرانو جرګي غړی — د ۱۹۶۵ — سپتمبر ۱۹۷۰م
د محمد امين خوګياني يو شمير ليکنی:
—حيات سيد جمال الدين افغان، کابل - ۱۳۱۸ لمريز
—تمتة البيان في التاريخ الافغان، دري ژباړه — ۱۳۱۸ لمريز
دا کتاب په مصر کي د سيد جمال الدين لخوا په عربي ژبه ليکل شوی وه.
—حيات سيد علي ترمذي پير بابايي بنيري — ۱۳۱۸ لمريز
-د قضا تاريخ (پښتو)
-د پښتونولي څلي
-تاريخ قضا (دري)
—خوشحال خان ختک (ناچاپه)
محمد امين خوګياني تر ۶۰۰ زياتي ګټوري، ارزښتناکه او تاريخی مقالي ليکلي:
د هغه وخت ځيني مشهور سياسي مقالي:
۱ -د ترکستان د مسلمانو ورونو د چين سينکيانک د فعاليتونو لپاره همکاري — د اصلاح په ورځپانه کي له ۱۳۰۸ څخه تر ۱۳۳۱۰ لمريز
۲ -د آزاد سرحد، مومندو او باجوړ کي د کورنی ښوونځيو جوړيدل - ۱۳۱۱ تر ۱۳۱۲ لمريز
۳ -د جلال اباد ښار سراج الامارات کي د اعليحضرت امان الله خان د جرګي بشپړ رپوټ او د اساسي قانون په اړه بحث
د اروابناد خوګياني صاحب لمسی انجنير امين خوګياني وايي چې:
"زمونږ دکورنی آرشيف او زما د نيکه شخصی کتابتون چه د لس زرو څخه زيات د کتابونو او رسالو مجموعه په عربي، پښتو، دری او اردو ژوبو په کی وه د هغوی په کور په شيرشاه مينه (څلورمه کارته) کښی د ۱۹۹۰ لسيزی په تنظيمی جګړو کښی چور او وسوځول شوه.... چه د لسو څخه زيات ناچاپه کتابونه هم پکی شامل وه چه اکثريت يی د تاريخ کتابونه وه. د کتابونو د ناچاپه پاتی کيدو دليل دا وه چی خوګيانی صاحب نه غوښتل چی سليقوی اصلاحات پکښی راوړی ".
محمد امين خوګياني د پنځو لسيزو په اوږدو کي د پوهني، ژورناليزم او قضا په برخه کي ستر او بنسټيز کارونه سر ته ورسول. نومړي ۴ کاله د افغانستان د پوهني، په ځانګړي ډول د ښوونځيو د جوړولو په ډګر کي، ۲۱ کاله د ژورناليزم د ودي او پرمختګ په ساحه او ۲۵ کاله د عدلي او قضايي خدمتونو په برخه کي د افغانستان د خلکو لپاره ستر او نه هيريدونکي خدمتونه تر سره کړي دي.
خوګياني صاحب په ۱۳۴۹لمريز (اکتوبر ۱۹۷۰م) کي تقاعد ته سوق شو.
محمد امين خوګياني د خپل ژوند پنځو لسيزو څخه زياته برخه د افغانستان د خلکو په چوپړ کي له تيرولو وروسته د ۱۳۶۴ لمريز کال د جدي په پنځمه نيټه (۲۶ دسمبر ۱۹۸۵م) د کابل په علي آباد روغتون کي فانی نړی څخه سترګی وتړلی او له ځان څخه يی ستری کارنامی او وياړلی نوم پريښود.
روح دي ښاد، د قدر وړ ملي کارنامو ياد دي تلپاتي او لوړ جنت دي ځای وي.
روحش شاد، ياد کارنامه های ارزشمند ملی اش ماندګار و بهشت برين مکانش باد.

مختصات افغانستان

| اسم یا کلمه | تصویر | بیوگرافی مختصر | معلومات مکملتر | نوع محتوا |
|---|---|---|---|---|
| خوگیانی امین |  | محمد امین خوگیانی به تاریخ ۴ جنوری ۱۹۰۰م (۱۴ جدی ۱۲۷۸ش مطابق ۲ رمضان ۱۳۱۷ق) در ولسوالی خوگیانی ولایت ننگرهار در یک خانوادهٔ فاضل، دانشمند و متدین دیده به جهان گشود.<br>پدرش محمد اسرائیل خان نام داشت که یک شخصیت عالم، معارف پرور و مبارزی بود که خود و خانواده اش بخاطر خدمات اجتماعی، تعمیم علم و مبارزات ضداستعماری اش در بین مردم از شهرت نیک، نفوذ اجتماعی و محبوبیت خاص برخوردار بود.<br>محمد امین خوگیانی د محمد اسرائیل خان زوی د ۱۲۷۸ لمریز کال د مرغومی په ۱۴ نیټه د ننگرهار ولایت د خوگیانو ولسوالی کی په یوه علمی، دینداره، او روښانه کورنی کی نړی ته سترگی پرانستی.<br>لومړنی ښوونی یی خپل پلار څخه پیل، وروسته خایی ښوونخی کی شامل شو.له هغه وروسته د "طورو د ماهیار" ښوونځی کی چی د لوړی تعلیمی کچی له امله په "وړه بخارا" مشهور وه، شامل او هلته یی خپل تعلیمات سر ته ورسول.<br>داکتر ناصر اوریا | بنیانگذار اولین مکتب عصری در مشرقی- د افغانستان لوی قاموس کی « محمد امین خوگیانی» پیژندنه | محققین و مؤلفین |


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ